آبادي

پنځلس ورځنی

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنی

گڼه: ۱۷ | مسلسل نمبر: ۱۵۵

پنجشنبه، جمادی الأولی ۲۴، ۱۴۴۸هـ.ق کال

لـه روسیې فدراسیون سره د اقتصادي همکاریو په اړه د همغږۍ غونډه جوړه شوه



۲مه صفحه

د کندهار د شوراندام سمنټو فابریکې لومړی فاز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



۲مه صفحه

تدارکاتو کمیسیون د شاوخوا پنځه میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۷ پروژې منظوري کړې



۳مه صفحه



سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۵ کال د عقرب میاشتې په اوومه نېټه، په کندهار ولایت کې د کندهار د شوراندام سیمنټو فابریکې لومړی فاز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، مور هغه وخت دوامداره اقتصادي پراختیا ته رسیدلی شو، چې له خپلو سرچینو پایداره ګټه پورته او د صنعتي سیاست په برخه کې مهم ګامونه واخلو. دا یو جوت او ښکاره حقیقت دی، تر هغې چې له خپلو طبیعي سرچینو ګټه پورته نه شي، تر هغې یو هېواد په خپلو پښو نه شي درېدای ترڅو په هېواد کې له شته سرچینو اعظمي ګټه پورته نه کړي. په نړۍ کې چې کومو هېوادونو پرمختګ کړی، ټولو له خپلو طبیعي سرچینو، بشري قوې او شته امکاناتو څخه استفاده کړې او په پوره زیار او زحمت یې ځانونه د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسولي دي. افغانستان د طبیعي سرچینو له پلوه یو بډای هېواد دی، که چیرې له دې سرچینو ګټه پورته شي، خپله په خپله به د پرمختګ په لور ګامونه پورته کړي. اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست په غوره کولو سره په همدې برخه کې یو په بل پسې ګامونه پورته کړي دي. د کندهار د شوراندام سمنټو فابریکې د لومړي فاز پرانیستل ددې لړۍ یوه برخه ده. د شوراندام سمنټو فابریکې د لومړي فاز پرانیسته یوازې د یوې فابریکې د دروازې پرانیستل نه دي، بلکې دغه فابریکه د افغانستان د سمنټو په برخه کې د ځان‌بسیاینې، صنعتي کېدو، کاري فرصتونو رامنځته کولو او د کورني تولید د پیاوړتیا پر لور یو مهم ګام هم دی. افغانستان دا مهال د خپلې ارتیا وړ سمنټو د پام وړ برخه له بهرنیو هېوادونو څخه واردوي چې دا له یوه لوري د اسعارو وتلو ته لار هواروي او له بل لـوري پر وارداتي اقتصاد فشـار زیاتوي. د شـوراندام سـمنټو فابریکې په ځیر فابریکو په فعالېدو سره به هم کورنی تولید زیات شي او هم به سوکه سوکه د سمنټو د وارداتـو کچه راټیټه شي. اسلامي امارت د سـمنټو د فابریکو د جوړېدو په برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي. د جوزجان د یتیم تاق د سمنټو فابریکې، د لوګر د التمور، د پران د جبل السراج، د بغلان د غوري، د هرات د سیمنټو فابریکو، یا خو یې د جوړېدو تړونونه لاسلیک شوي یا یې هم د پراختیا او بیارغونې چارې روانې دي. د کندهار د شوراندام سمنټو فابریکې په جوړېدو سره به له یوه لوري د سـمنټو واردات راکـم شي، له بل لوري به افغانستان په دې برخه کې د ځان بسیاینې په لور ګامونه پورته کړي. ددې ترڅنګ به کاري فرصتونه رامنځته او هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره شي، دغه راز د کندهار اقتصادي او صنعتي موقعیت به پیاوړی، د ودانیزو چارو د لګښتونو او بازار پر ثبات به مثبته اغیزه وښندي، له کورنیو طبیعي سرچینو به اغیزناکه ګټه پورته شي. دا ټول هغه څه دي چې مور اقتصادي خپلواکۍ او ځان بسیاینې ته رسوي. له دې سره به هېواد سوکه سوکه له یوه وارداتي هېـواد څخه پر صادراتي هېواد بـدل او صنعتي وده او پرمختګ به ورسره رامنځته شي.

له روسيې فدراسيون سره د اقتصادي همکاريو په اړه د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ، د ۱۴۰۵ کال د عقرب په ۱۲مه نيټه، له روسيې فدراسيون سره د اقتصادي همکاريو په اړه د همغږۍ غونډه په مرمرينه مانۍ کې جوړه شوه.



په دغه غونډه کې د مالیې وزارت له لورې له روسيې سره د ګډ اقتصادي کمېسيون د وروستۍ غونډې راپور وړاندې شو. راپور کې ويل شوي چې د دې کمېسيون لپاره د کارونو د پرمخ وړلو طرحه چمتو شوې او د نهايي کېدو په موخه د اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی دفتر ته استول شوې ده. دغه راز، په تاتارستان کې د کازان د وروستي فورم په څنډه کې له روسي لورې سره د اقتصادي همکاريو په برخه کې چمتو شوی سند نهايي شوی او په نړۍ راتلونکي کې به له روسيې فدراسيون سره لاسليک شي.

په غونډه کې له روسيې سره د ګډ اقتصادي کمېسيون د وروستۍ غونډې د پرېکړو پر عملي کېدو او د زيربناوو، سوداګرۍ، برېښنا، ترانسپورټ، کانونو، لوړو زده کړو، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، روغتيا او درملو، سوداګريزو ويزو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او ځينو نورو سکټورونو کې د پانګوني له پاره د شته فرصتونو او لومړيتوبونو په اړه بحث وشو او فرصتونه او لومړيتوبونه په ګوته شول.

د کندهار د شوراندام سيمنټو فابريکې لومړی فاز ګټې اخيستنې ته وسپارل شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لورې د ۱۴۰۵ کال د عقرب مياشتې په اوومه نېټه، په کندهار ولايت کې د کندهار د شوراندام سيمنټو فابريکې لومړی فاز ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې وويل، مور هغه وخت دوامداره اقتصادي پراختيا ته رسيدلی شو، چې له خپلو سرچينو پايداره ګټه پورته او د صنعتي سياست په برخه کې مهم ګامونه واخلو. محترم



ملا صاحب زياته کړه، د افغانستان اسلامي امارت ستراتيژيک او اقتصادي تفکر دا دی، چې افغانستان په تدريجي توګه له مصرفي هېواد څخه په توليدي هېواد بدل، ارتياوې له کورنيو توليداتو پوره، په توليدي پروسو کې ځنځيري ارزښتونه پراخ او د صادراتو کچه لوړه کړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په خبره، د اسلامي امارت موخه او مسوولیت د داسې توليدي نظام رامنځته کول دي، چې اقتصادي منطق ولري او د هېواد د پرمختګ په برخه کې واقعي ارزښتونه رامنځته کړي او په همدې موخه د مهمو او سترو ملي پروژو تطبيق ته زمينې برابرې شوې دي.

محترم ملا عدالغني برادر اخوند وويل، افغانستان په کور دننه د سيمنټو د توليد پراخ ظرفيتونه لري او دا د هېواد د ساختماني سکټور د ارتياوو په پوره کولو کې بنسټيز رول لوبولی شي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د کندهار شوراندام سيمنټو فابريکې له مسوولينو په ټينګار سره وغوښتل، چې خپلې تولې چارې د منل شوو معيارونو په پام کې نيولو سره په ښه کيفيت ترسره کړي.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنی
ابادي
پنځلس ورځنی

تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا پنځه میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۷ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د عقرب میاشتې په درېیمه نېټه د یک شنبې په ورځ، په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه. غونډې ته ۲۹ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له هراړخیز بحث وروسته د شاوخوا پنځه میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۷ پروژې منظورې شوې او په پنځو نورو پروژو کې لازم تعدیلونه تصویب شول. همداراز، د څلورو پروژو په اړه



تاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې؛ څو د پروژو د قیمتونو په اړه له ګټونکو او په شرایطو برابرو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور یې د تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. همدارنګه، دوې پروژې د ګټونکو شرکتونو د کاري نیمګړتیاوو له امله بیاځلي ازادي داوطلبۍ ته وړاندې او دغه شرکتونه د محرومیت کمېټې ته ور وپېژندل شول. د دې ترڅنګ، یوه پروژه د وړ او په شرایطو برابر شرکت ته د سپارلو په موخه بیاځلي ازادي داوطلبۍ ته وړاندې شوه. په منظور شوو پروژو کې د اقیني ګمرک د یوشمېر برخو جوړول، د هلمند له دوه لارې تر هرات پورې د عمومي لویې لارې د لومړۍ برخې بیارغونه، د ننګرهار د حصار شاهي سب‌سټېشن د ۲۲۰ کیلو ولټ لین د بې پراختیا، د جوزجان د یتیم‌تاق سیمې د ګازو د فابریکې د انرژۍ د لېږد لپاره د ۴۰ مېګاولټ امپیره سب‌سټېشن جوړول، په کابل ښار کې د یوشمېر سړکونو جوړول او همداراز په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع د یوشمېر پروژو تطبیق شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لورې تمویلیږي.

جلسه کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی برگزار شد

جلسه نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی، به تاریخ ۲۸ میزان سال ۱۴۰۵، در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، طرح سرمایه‌گذاری سکتور خصوصی در زمینه اکتشاف، استخراج و پروسس فاسفیت، مس و جست برای بحث ارائه شد. بر اساس این طرح، سکتور خصوصی از فاسفیت کود کیمیاوی و از مس، کیبل های برق تولید خواهد کرد. پس از بحث همه‌جانبه، تصمیم گرفته شد که وزارت معادن و پترولیم این طرح را به‌گونه همه‌جانبه بررسی کند و گزارش آن را به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی ارائه نماید. همچنان، در این جلسه طرح اعمار یک مارکیت تجارتی زیرزمینی در زمین مربوط به شاروالی کابل، از چهارراهی سپاهی گمنام تا جاده میوند و از جاده میوند تا پل یک پیسه‌گی، در ناحیه اول شهر کابل، برای بحث ارائه شد. پس از بحث، به کمیته‌ای که قبلاً به همین منظور تعیین شده بود، هدایت داده شد تا گزارش مطالعات اجتماعی و ترافیکی این طرح را هرچه زودتر تکمیل نموده و با کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی شریک سازد.



ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنی
ابادي
پنځلس ورځنی

له تمویلوونکو او نړیوالو موسسو سره د صنعت او سوداګرۍ وزارت لومړیتوبونه شریک شول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د عامه اړیکو ریاست په مشری، د ۱۴۰۵ کال د عقرب میاشتې په شپږمه نېټه، په مرمرینه مانۍ کې د تمویلوونکو، نړیوالو موسسو، ملګرو ملتونو او پراختیایي شریکانو له استازو سره د افغانستان د سکتوري ادارو د لومړیتوبونو شریکولو اوومه غونډه جوړه شوه. په غونډه کې له تمویلوونکو او نړیوالو موسسو سره د صنعت او سوداګرۍ وزارت لومړیتوبونه شریک شول. دغه لومړیتوبونه په هېواد کې د پانګونې فرصتونو د رامنځته کولو، د تشبثاتو د مرکزونو د ایجاد، د منځنیو او کوچنیو تشبثاتو د ملاتړ، د کورنیو تولیداتو د بازارموندنې ظرفیت لوړولو، د کورنیو تولیداتو د پروسس او بسته‌بندۍ، د صادراتو د پراختیا او یوشمېر نورو برخو اړوند وو. دغه لومړیتوبونه د هېواد د اقتصادي ودې د پراختیا، د خصوصي سکتور د ملاتړ، د کاري فرصتونو د ایجاد او تولیدي بنسټونو د ملاتړ په پام کې نیولو سره مشخص شوي؛ څو د تمویلوونکو بنسټونو او نړیوالو موسسو راتلونکې مرستې او پراختیایي همکارۍ تر ممکنه حده د همدې لومړیتوبونو په چوکاټ کې تنظیم او همغږې شي.

د تمویلوونکو بنسټونو او نړیوالو موسسو استازو د ریاست‌الوزراء له اقتصادي معاونیت او صنعت او سوداګرۍ وزارت څخه منه وکړه، چې دغه لومړیتوبونه یې له دوی سره شریک کړل. هغوی زیاته کړه چې خپلې راتلونکې مرستې او همکارۍ د همدغو لومړیتوبونو په رڼا کې تنظیم کړي.

اولویت‌های وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد

ششمین نشست شریک ساختن اولویت‌های ادارات سکتوری افغانستان با نمایندگان تمویل‌کنندگان، مؤسسات بین‌المللی، سازمان ملل متحد و شرکای انکشافی، روز دوشنبه، چهارم عقرب سال ۱۴۰۵، به رهبری ریاست روابط عامه معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء در قصر مرمرین برگزار شد.

در این نشست، اولویت‌های وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان امارت اسلامی افغانستان با تمویل‌کنندگان و مؤسسات بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد.

این اولویت‌ها شامل فراهم‌ساختن سرپناه دایمی برای مهاجرین و عودت‌کنندگان، دسترسی به خدمات آموزشی و صحی، ایجاد فرصت‌های کاری، رساندن کمک‌های اولیه بشری به آنان و شماری از بخش‌های دیگر بود.

این اولویت‌ها با درنظرداشت وضعیت کنونی مهاجرین و عودت‌کنندگان در کشور مشخص شده‌اند تا کمک‌های آینده و همکاری‌های انکشافی نهادهای تمویل‌کننده و مؤسسات بین‌المللی تا حد امکان در چارچوب همین اولویت‌ها تنظیم و هماهنگ شوند.

نمایندگان نهادهای تمویل‌کننده و مؤسسات بین‌المللی از معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء و وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان به‌خاطر شریک‌ساختن این اولویت‌ها با آنان، قدردانی کردند. آنان افزودند که کمک‌ها و همکاری‌های آینده خود را با درنظرداشت همین اولویت‌ها تنظیم خواهند کرد.

اولویت‌های اداره عمومی حفاظت از محیط زیست با تمویل‌کنندگان و نهادهای بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد

به رهبری ریاست ارتباط عامه معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، روز دوشنبه، ۱۱ عقرب ۱۴۰۵، هشتمین نشست شریک ساختن اولویت‌های ادارات سکتوری افغانستان با نمایندگان تمویل‌کنندگان، نهادهای بین‌المللی، سازمان ملل متحد و شرکای انکشافی، در قصر مرمرین برگزار شد. در این نشست، اولویت‌های اداره عمومی حفاظت از محیط زیست امارت اسلامی افغانستان با تمویل‌کنندگان و نهادهای بین‌المللی به اشتراک گذاشته شد. این اولویت‌ها شامل فعال‌سازی و توسعه سیستم معلوماتی تغییرات اقلیمی، ثبت و تجدید معلومات موجودیت و انتشار گازهای گلخانه ای، ارزیابی آسیب‌پذیری تغییرات اقلیمی، ایجاد فارم‌های تحقیقاتی حفاظت از محیط زیست، غرس نهال و توسعه ساحات سبز، جمع‌آوری معلومات مربوط به موجودیت و انتشار هایدروکاربن‌ها، تقویت و نظارت از سیستم گزارش‌دهی مواد تخریب‌کننده لایه اوزون و شماری از بخش‌های دیگر بود. هدف از این کار آن است که کمک‌ها و همکاری‌های انکشافی آینده نهادهای تمویل‌کننده و سازمان‌های بین‌المللی تا حد امکان در چارچوب همین اولویت‌ها فراهم و هماهنگ شود. نمایندگان نهادهای تمویل‌کننده و سازمان‌های بین‌المللی، برنامه شریک‌ساختن اولویت‌ها از سوی معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء و اداره عمومی حفاظت از محیط زیست را ستایش کردند. آنان همکاری و هماهنگی در این زمینه را ضروری دانسته و اظهار داشتند که کمک‌ها و همکاری‌های آینده خود را با درنظرداشت همین اولویت‌ها تنظیم خواهند کرد.



ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنی
ابادي
پنځلس ورځنی



د زېربنايي پروژو تطبيق
او د هېواد پر اقتصادي وده يې اغېزې

قيس احمد

سريزه

د منل شوو تخنيکي او اقتصادي معيارونو له مخې د زېربنايي پروژو پيل او د هغو تطبيق د يوه هېواد پر اقتصادي وده، د کاري فرصتونو پر رامنځته کولو، د خلکو د ژوند د کچې پر لوړولو او په ټوله کې د اقتصادي ځانبسيايني پر لور د ګام اخيستو په برخه کې مهم رول لري. زېربنايي پروژې نه يوازې د هېواد د بنسټيزو اسانتياوو د پراختيا زمينه برابروي، بلکې د پانګونې، سوداګرۍ، صنعت او کورنۍ توليد د ودې لپاره هم اساسي شرايط رامنځته کوي. د افغانستان اسلامي امارت د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون د خپلو غونډو په ترڅ کې په بېلابېلو سکټورونو کې د مهمو زېربنايي پروژو د منظورۍ، ارزونې او څارنې چارې پر مخ وړي. د ۱۴۰۵ کال په لومړۍ ربعه کې د افغانستان اسلامي امارت له لوري په بېلابېلو ولايتونو کې د ۲۵۷ منظور شوو زېربنايي پروژو د تطبيق چارې روانې وې. دغه پروژې د هېواد په مهمو اقتصادي او خدماتي سکټورونو پورې تړاو لري. د دغو پروژو د تطبيق اقتصادي اهميت يوازې د ساختماني چارو په ترسره کېدو پورې محدود نه دی، بلکې د کاري فرصتونو په رامنځته کولو، د اقتصادي فعاليتونو په پراختيا، د خصوصي سکټور په پياوړتيا او د هېواد د توليدي ظرفيتونو په لوړولو کې هم مهمه ونډه لري. په همدې اساس، په دې مقاله کې د زېربنايي پروژو پر اقتصادي اهميت، د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې د هغوی پر رول او د افغانستان پر اقتصادي وده د دغو پروژو پر

د ۲۵۷ زېربنايي پروژو د تطبيق وضعيت

د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري د تدارکاتو رياست د معلوماتو له مخې، چې د تدارکاتو کمېسيون تر چتر لاندې فعاليت کوي او د دغه کمېسيون له لوري د منظور شوو پروژو د چارو نظارت هم پر غاړه لري، د ۱۴۰۵ کال په لومړۍ ربعه کې په مختلفو ولايتونو کې د اسلامي امارت له لوري د منظور شوو ۲۵۷ زېربنايي پروژو د تطبيق چارې روانې وې. د معلوماتو له مخې، دغه پروژې د لويو لارو او سړکونو جوړولو او پراختيا، برېښنا توليد، انتقال او وېش، د اوبو بندونو جوړولو، د هوايي ډګرونو بيارغونې، روغتيا، زده کړو، کانونو، مخابراتو او ټکنالوژۍ، صنعت، کرنې او مالدارۍ او يو شمېر نورو برخو پورې تړاو لري، چې ټوليز مالي ارزښت يې ۱۲۲.۸ ميليارد افغانيو ته رسېږي.

د دغو پروژو له جملې ډېرې يې له ۲۰ تر ۸۰ سلنه کاري پرمختګونه لري. د تدارکاتو رياست د معلوماتو له مخې، د ترسره شوو کاري پرمختګونو ټوليز مالي ارزښت شاوخوا ۴۱.۹ ميليارده افغانيو ته رسېږي، چې د اړوندو سکټوري ادارو له لوري قراردادياتو ته د شاوخوا ۲۹.۴ ميليارده افغانيو په ارزښت پيسې تاديه شوې او د پاتې مقدار تاديه يې هم په نورمال ډول روانه ده.

د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې د زېربنايي پروژو رول

د تدارکاتو رياست د معلوماتو له مخې، د ۱۴۰۴ کال په څلورمه ربعه کې د هېواد په کچه د ۱۶۸ زېربنايي پروژو د تطبيق چارې روانې وې، چې ټوليز مالي ارزښت يې شاوخوا ۸۸ ميليارده افغانيو ته رسېده. دې ته په کتو، د ۱۴۰۵ کال په لومړۍ ربعه کې د تر کار لاندې زېربنايي پروژو شمېر د تېر کال د څلورمې ربعې په پرتله زيات شوی دی. دغه زياتوالی د زېربنايي پروژو په برخه کې د فعاليتونو د پراختيا او د هېوادوالو لپاره د کاري فرصتونو د زياتېدو ښکارندوی دی. د يادو پروژو د اړوندو سکټوري ادارو د معلوماتو له مخې چې مړ يې کابل ښاروالي د بېلګې په ډول را اخلو، د دې ادارې مسوولين وايي، د تېرو پنځو کلونو په جريان کې د کابل ښاروالۍ په زېربنايي پروژو کې چې عمده برخه يې سړکونه او هوايي پلونه دي، سل زره کسانو ته په مستقيم او ۵۰۰ زره کسانو ته په غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شوې ده. همدې ته ورته د ۱۴۰۵ کال په لومړۍ ربعه کې په ۲۵۷ پيل شوو پروژو کې چې د ۱۸ بېلابېلو امارتي نهادونو اړوند وې، په مستقيم او غير مستقيم ډول لسګونو زره هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته شوي. په دې کې انجنيران، تخنيکي، فني او عادي کاريګران او همدارنګه د خدماتو رسولو برخې کسان شامل دي.

د پيل شوو زېربنايي پروژو اقتصادي اهميت

د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو پراختيا: په هغو سيمو کې چې زېربنايي پروژې پيل او د تطبيق چارې يې روانې دي، له شکه پرته هلته نوي کاروبارونه چې مهم هغه يې کوچني او منځني کاروبارونه دي، پيل شوي. مړ به يې د بېلګې په ډول د کابل - غزني د دويم لين سړک د جوړېدو له پيل سره چې د همدې ۲۵۷ پروژو له

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنی

ابادي
پنځلس ورځنی

جملې يوه ده، د دې لارې په اوږدو کې د نويو پيل شوو کاروبارونو يادونه وکړو. د دې لارې په اوږدو کې په لسګونو نوي تيل پمپونه، د مايع ګاز شرکتونه، روغتونونه، سوداګريز مارکېټونه، رستورانټونه، په لسګونو شنې خونې، د چرګانو روزنې فارمونه، د مالداری فارمونه، په سلګونو نوي کوچني کاروبارونه لکه خياطي، سوپر مارکېټ، لبنيات پلورنځي، قصابي، نانوايي، ورکشاپونه او نور کوچني او منځني کاروبارونه پيل شوي دي. په مجموعي ډول په دې کې په زياته اندازه پانګونه شوې، سوداګري غوړېدلې، لومړنيو خدماتو ته د خلکو لاسرسی اسانه شوی او په سلګونو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شوې ده. همدې ته ورته د زياتره زېربنايي پروژو د تطبيق په سيمو کې کوچنيو او منځنيو کاروبارونو پراختيا موندلې ده.

د خصوصي سکټور د پانګونې او اقتصادي فعاليتونو پراختيا: د زېربنايي پروژو د تطبيق له مهمو اقتصادي اغېزو څخه يوه هم د خصوصي سکټور د پانګونې لپاره د مناسبو شرايطو برابرول دي. کله چې په يوه سيمه کې سړکونه، برېښنا او نورې بنسټيزې اسانتياوې رامنځته شي، ورسره په هممهاله توګه د اقتصادي فعاليتونو لپاره نوي فرصتونه هم برابرېږي. دغه اسانتياوې نه يوازې د موجوده کاروبارونو د فعاليتونو د پراختيا زمينه برابروي، بلکې کورني پانګوال هم هڅوي چې په بېلابېلو توليدي، سوداګريزو او خدماتي برخو کې پانګونه وکړي. په ځانګړي ډول، د برېښنا د توليد، انتقال او وېش پروژې چې د دوامداره او پايداره برېښنا په برخه کې مهم رول لري، د صنعتي فعاليتونو په پراختيا کې هم مهم رول لري. ځکه دوامداره برېښنا د توليدي فابريکو، کوچنيو صنايعو او خدماتي مرکزونو د فعاليت لپاره اساسي اړتيا ده. د دې ۲۵۷ پروژو له جملې ډېرې يې د برېښنا د توليد، لېږد او وېش اړوند دي. مور وينو چې صنعتي سيمو ته د برېښنا کچې په زياتېدو سره په ټول هېواد کې د صنعتي فابريکو شمېر زيات شوی. په زرګونو نوي توليدي فابريکې جوړې شوې، چې د کورني توليد کچه هم ورسره د پام وړ زياته شوې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، د اسلامي امارت له راتګ وړاندې په ټول هېواد کې شاوخوا درې زره فابريکو فعاليت درلود، چې اوسمهال د برېښنا په دوامداره کېدو سره دا شمېر شاوخوا ۶۵۰۰ ته پورته شوی دی. دغه فابريکې د خوړو، پلاستيک، سيمنتو، ساختماني توکو، درملو، پاکوونکو موادو، ماشين‌الاتو، کرنې، اوسپنې ويلې کولو، پي‌وي‌سي، نوشابو، نفتي موادو، جامو، فرنيچر، ډبرو، لوښو او نورو برخو کې فعاليت کوي. د معلوماتو له مخې، په يادو فابريکو کې ۴۵۰ زره کسانو ته د کار زمينه برابره شوې ده او افغانستان اوسمهال د ۳۳۰ توکو د توليد په برخه کې خودکفايي ته رسېدلی دی. همدارنګه، د سړکونو او ترانسپورتي شبکو پراختيا د خامو موادو او توليدي محصولاتو د لېږد لګښتونه راکموي او توليدوونکو ته د کورنيو بازارونو د پراخېدو زمينه برابروي.

د ترانسپورټ او لېږد رالېږد اسانتياوې: د ۲۵۷ پروژو له جملې تر ټولو زياتې پروژې چې هم يې مالي ارزښت لوړ دی او هم يې د پروژو شمېر زيات دی، هغه د لويو لارو او سړکونو د بيارغونې او جوړولو اړوند دي. د سړکونو او ترانسپورتي شبکو پراختيا د خامو موادو او توليدي محصولاتو د لېږد لګښتونه راکموي او توليدوونکو ته د کورنيو بازارونو د پراخېدو زمينه برابروي. په هغو سيمو کې چې لويې لارې بيارغول کېږي او نوي سړکونه جوړېږي، له شکه پرته هلته به ترانسپورتي لګښتونه راکم او د توکو د لېږد رالېږد په برخه کې به اسانتياوې رامنځته شي. د دې پروژو له جملې زياتره يې داسې دي چې لرې پرتې سيمې او ولسوالۍ له مرکزونو او عمومي لارو سره نښلوي. د دې پروژو د چارو په بشپړېدو سره به کرنيز او د مالداری محصولات په کم لګښت او کم وخت سره بازرونو ته ورسېږي.

پايله

په ټوله کې د يادو زېربنايي پروژو تطبيق د افغانستان د اقتصادي ودې، د کاري فرصتونو رامنځته کولو او د خصوصي سکټور د پياوړتيا لپاره مهمه وسيله ده. د دغو پروژو له لارې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو د ودې، د پانګونې د هڅونې، د توليدي فعاليتونو د پراختيا او د ترانسپورتي لګښتونو د کمېدو زمينه برابرېږي. د ۲۵۷ زېربنايي پروژو روان تطبيق د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا او خلکو ته د کار د زمينې د برابرېدو مثبت ظرفيت ښيي. له همدې امله، د دغو پروژو پر وخت او ښه تطبيق، د کيفيت پر ساتلو او دوامدارې ځارنې ټينګار کولای شي د افغانستان د اقتصادي ځانبسيايني، متوازن پرمختګ او د خلکو د ژوند د کچې د لوړولو په برخه کې اوږدمهاله او مثبتې پايلې ولري.

د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



اندازه	پولي واحد	پېرل	پلورل
۱	امريکايي ډالر	۶۵,۰۵؋	۶۵,۱۰؋
۱۰۰۰	پاکستاني کلداري	۲۳۰؋	۲۳۱؋
۱۰۰۰	ايراني تومن	۰,۲۴؋	۰,۲۵؋
۱	اروپايي يورو	۷۲,۲۰؋	۷۲,۵۰؋
۱	روسي روبل	۰,۸۰؋	۰,۸۰؋

اندازه	پولي واحد	پېرل	پلورل
۱۰۰۰	هندي کلداري	۷۲۴؋	۷۳۴؋
۱	انګليسي پوند	۸۵,۴۰؋	۸۵,۰۰؋
۱	سعودي ريال	۱۷,۲۹؋	۱۷,۳۰؋
۱	اماراتي درهم	۱۷,۷۱؋	۱۷,۷۳؋
۱	چيني ين	۹,۷۴؋	۹,۷۴؋